DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

کاپیسا
د پایلې لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



د ۸۲۳ داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو لپاره چې په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي د پناه ځای درلودل تر ټولو اړینه اړتیا بلل کېږي، لکه دا کورنۍ چې د کاپیسا ولایت د داخلي بېځایه شویو په سیمه کې اوسېږي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره .www.displacement iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کېدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۷** ولسوالۍ وارزول شوې
**۱۴۸** کلي وارزول شول

**۸۶۶**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۲۳،۲۶۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۷،۱۶۲**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۵،۲۴۷**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۴،۴۷۰**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴،۱۳۴**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ٪۸)

**۸۲۳**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۳**
د کاپیسا ولایت د ټولو راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو له ډلې ٪۵۸ کسان په محمود راقي او تګاب ولسوالیو کې ژوند کوي

**۵ څخه ۱**
٪۱۸ کورنۍ په محمود راقي ولسوالۍ کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۷،۶۸۹**
کسان (٪۶۸) په تګاب ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۴،۶۳۵**
کسان (٪۴۰) په تګاب ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۸۳۰**
کسان (٪۳۸) په کوه بند ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې ته پېرېښي | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| محمودراقی | ۷۰,۲۰۶ | ۱۱,۷۴۹ | ٪۱۴ | ۵,۵۲۶ | ٪۷ | ۲,۳۱۱ | ٪۳ | ۶,۲۲۳ | ٪۸ | ۲,۳۰۹ | ٪۳ | ۷,۹۰۷ | ٪۱۱ |
| نجراب | ۱۲۲,۶۶۹ | ۶,۰۹۰ | ٪۵ | ۳,۲۰۶ | ٪۲ | ۹,۵۸۷ | ٪۸ | ۲,۸۸۴ | ٪۲ | ۶۲۳ | ٪۱ | ۷,۲۴۱ | ٪۶ |
| کوه بند | ۲۵,۶۶۲ | ۲,۱۶۵ | ٪۸ | ۷۰۹ | ٪۳ | ۳,۸۴۵ | ٪۱۵ | ۱,۴۵۶ | ٪۵ | ۷۴۹ | ٪۳ | ۲,۱۷۷ | ٪۸ |
| حصه دوم کوهستان | ۴۹,۱۴۴ | ۴,۳۵۶ | ٪۸ | ۲,۶۹۰ | ٪۵ | ۱,۳۰۳ | ٪۳ | ۱,۶۶۶ | ٪۳ | ۲,۵۹۴ | ٪۵ | ۲,۷۹۰ | ٪۶ |
| تگاب | ۸۸,۲۸۲ | ۱۱,۵۲۵ | ٪۱۲ | ۸,۳۴۷ | ٪۸ | ۹,۳۶۴ | ٪۱۱ | ۳,۱۷۸ | ٪۳ | ۶,۵۸۲ | ٪۷ | ۸,۳۶۶ | ٪۹ |
| اله سای | ۴۱,۳۱۷ | ۸۳۷ | ٪۲ | ۶۷۶ | ٪۲ | ۳,۲۸۸ | ٪۸ | ۱۶۱ | ٪۰ | ۹۱۷ | ٪۲ | ۱,۲۲۳ | ٪۳ |
| حصه اول کوهستان | ۷۴,۲۹۴ | ۳,۷۰۶ | ٪۵ | ۲,۱۱۲ | ٪۳ | ۳,۴۰۹ | ٪۵ | ۱,۵۹۴ | ٪۲ | ۱,۴۷۳ | ٪۲ | ۴,۷۶۶ | ٪۶ |
| مجموعه | ۴۷۱,۵۷۴ | ۴۰,۴۲۸ | ٪۸ | ۲۳,۲۶۶ | ٪۵ | ۳۳,۱۰۷ | ٪۷ | ۱۷,۱۶۲ | ٪۳ | ۱۵,۲۴۷ | ٪۳ | ۳۴,۴۷۰ | ٪۷ |

* د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



په نجراب ولسوالۍ کې د برېښنا درلودلو سربېره ډېرى کورنۍ د ژوندانه خراب وضعیت څخه رنځ وړي. دا کور چې په انځور کې ښودل شوى نه یوازې دا چې زوړ دى بلکه د نړېدو امکان یې هم شته. © IOM ۲۰۱۸

## تکلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځايه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټلیفونونه يا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري ترې کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکټرونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ور جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او تليو افغان وګړو په اړه د موخې ور جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د خوسکتوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جنډر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په کاپيسا ولايت کې د کليدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه يوازې ۰٫۵٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۷ کال مارچ مياشتې د هېواد د کچې ښځينه کليدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰٫۱٪) په پرتله پرمختګ ښيي.

**۸۶۶**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴۷**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۵٪)

**۴**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۰٫۵٪)

**۲۳۴**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)


**۸۶۲**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۹٫۵٪)

**۲۶۳**
خوسکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۱٪)


**۵٫۹**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۲۶۰**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۰٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کاپیسا




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کاپیسا



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه کاپیسا ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ٪۵۷ کموالی شوی او په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ٪۸ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې هم د ۲۰۱۷ کال په پرتله ٪۱۴ کموالی شوی.

**۲۳،۲۶۶** بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۳،۶۸۹** پاکستان څخه راستنېدونکي (٪۱۶)


**۲۱،۷۵۵** له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (٪۹۸)


**۱۸،۵۱۷** ایران څخه راستنېدونکي (٪۸۰)


**۴۵۱** له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (٪۲)


**۱،۰۶۰** غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (٪۴)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـۍ یـا وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خوندیتـوب اندیښـنې او د طبیعـی پیښـو یـا د انسان پـه لاس جـوړې شـویو پیښـو څخـه د خوندیتـوب پـه موخـه خپلـو سـیمو څخـه بېځایـه شـوي دي او ارزول شـوي/ کوربـه ټولنـو تـه تللي او هلتـه ژوند کـوي.

**۱۷،۱۶۲**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۸۵٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۶,۲۲۳**
محمود راقي ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۵٪**
د طبیعي پیښو له امله بېځایه شوي


**۳۵**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۰,۲٪)

**۷۸٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | کاپیسا





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کاپیسا





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کاپیسا




د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | کاپیسا




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | کاپیسا




# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

پـه عمومـي توګه کاپیسـا ولایت لـه ټولټال ۴۰،۴۲۸ راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۵۸٪ (۲۳،۲۶۶ کسـان) راسـتنېدونکي او ۴۲٪ (۱۷,۱۶۲ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانـدې جدول کـې د کاپیسـا ولایت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ څخه اغیزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د کاپیسـا ولایت ۱۴۸ ارزول شـویو کلیو څخه ۱۴٪) د ټول ولایت ۴۴٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي. دا کلي د ټولنـو بـې ثباتـۍ پـر وړاندې چـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ تـه شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیـو څخـه ۹ کلي یـې پـه تګاب ولسـوالۍ کـې موقعیـت لـري او د دې جـدول ۴۵٪ (۸,۱۴۵) راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي.


## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | ریګک نوآباد | محموداراقی | ۱,۷۵۴ |
| ۲ | تاجک | تګاب | ۱,۴۵۷ |
| ۳ | اعطا الله خیل | محموداراقی | ۱,۳۳۹ |
| ۴ | پاچا خیل یا بادشاه خیل | محموداراقی | ۱,۱۹۷ |
| ۵ | بلو خیل | تګاب | ۱,۱۰۱ |
| ۶ | لنده خیل اول | تګاب | ۱,۰۸۷ |
| ۷ | آزاد خان خیل | تګاب | ۱,۰۵۶ |
| ۸ | لنده خیل دوم | تګاب | ۹۲۷ |
| ۹ | جمال آغا بالا | حصه دوم کوهستان | ۹۲۲ |
| ۱۰ | تګاب | تګاب | ۸۶۱ |
| ۱۱ | جمال آغا حولیا قربان خیل | حصه دوم کوهستان | ۸۱۷ |
| ۱۲ | فیروز زی | نجراب | ۷۹۷ |
| ۱۳ | واسیع خیل | حصه اول کوهستان | ۷۰۵ |
| ۱۴ | شش صد کوتی | حصه اول کوهستان | ۶۴۶ |
| ۱۵ | مرکز ولسوالی تګاب | تګاب | ۶۴۰ |
| ۱۶ | قروتک مرکزی | محموداراقی | ۶۰۳ |
| ۱۷ | دین کک | محموداراقی | ۵۲۵ |
| ۱۸ | علی خیل | تګاب | ۵۲۲ |
| ۱۹ | سر جو ګل نورخیل | کوه بند | ۵۰۲ |
| ۲۰ | حلیمه خیل | تګاب | ۴۹۴ |
| | | مجموعه | ۱۷,۹۵۲ |





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| محموداراقی | ۵,۵۲۶ | ۶,۲۲۳ | ۱۱,۷۴۹ |
| تګاب | ۸,۳۴۷ | ۳,۱۷۸ | ۱۱,۵۲۵ |
| نجراب | ۳,۲۰۶ | ۲,۸۸۴ | ۶,۰۹۰ |
| حصه دوم کوهستان | ۲,۶۹۰ | ۱,۶۶۶ | ۴,۳۵۶ |
| حصه اول کوهستان | ۲,۱۱۲ | ۱,۵۹۴ | ۳,۷۰۶ |
| کوه بند | ۷۰۹ | ۱,۴۵۶ | ۲,۱۶۵ |
| اله سای | ۶۷۶ | ۱۶۱ | ۸۳۷ |
| عمومي مجموعه | ۲۳,۲۶۶ | ۱۷,۱۶۲ | ۴۰,۴۲۸ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخـه چې هلته یـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تلـلي دي تر څو د وسـلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندیښـنې او طبیعي پېښـو یا د انسان پـه لاس جوړو شـویو پېښـو څخه خونديٍ ووسي.


**۳۳،۱۰۷**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


**۲۶٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۶۷٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۳۳٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقوقو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۵،۲۴۷**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۹۱٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۴ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۳ ولسوالیو ته راستانه شوي: تګاب، حصه دو کهستان او نجراب (۷۵٪)


**۵ څخه ۲**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۴۳٪ کسان تګاب ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کاپیسا




راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | کاپیسا




د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې لـه یوې ارزول شـوې سـیمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي کډوال او هغه کسـان شـاملېږي چې افغانسـتان یې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.


**۳۴،۴۷۰**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۴،۱۳۴**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۲٪)


**۲۷،۷۰۱**
ایران ته تللي دي (۸۰٪)


**۲،۶۰۸**
پاکستان ته تللي دي (۸٪)




# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | محمود راقی | ۱۱,۷۴۹ |
| ۲ | تګاب | ۱۱,۵۲۵ |
| ۳ | نجراب | ۶,۰۹۰ |
| ۴ | حصه۲کوهستان | ۴,۳۵۶ |
| ۵ | حصه۱کوهستان | ۳,۷۰۶ |
| | عمومي مجموعه | ۳۷,۴۲۶ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | محمود راقی | ۴۴۲ |
| ۲ | تګاب | ۳۲۳ |
| ۳ | حصه۱کوهستان | ۵۸ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | مجموعه کلی | ۸۲۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کوه بند | ۸۳۰ |
| ۲ | حصه۲کوهستان | ۴۶۰ |
| ۳ | تګاب | ۲۲۵ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | مجموعه کلی | ۱,۵۱۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | تګاب | ۷,۷۸۹ |
| ۲ | محمود راقی | ۴,۱۴۱ |
| ۳ | نجراب | ۲,۰۸۲ |
| ۴ | کوه بند | ۷۰۵ |
| ۵ | حصه۲کوهستان | ۲۵۲ |
| | مجموعه کلی | ۱۴,۹۶۹ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | محمود راقی | ۲,۱۷۳ |
| ۲ | نجراب | ۱,۳۶۷ |
| ۳ | کوه بند | ۵۳۸ |
| ۴ | تګاب | ۲۲۵ |
| ۵ | حصه۲کوهستان | ۱۲۴ |
| | مجموعه کلی | ۴,۴۲۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | تګاب | ۴,۶۳۵ |
| ۲ | محمود راقی | ۴,۴۲۱ |
| ۳ | کوه بند | ۱,۳۲۶ |
| ۴ | حصه۲کوهستان | ۴۵۸ |
| ۵ | نجراب | ۲۰۵ |
| | مجموعه کلی | ۱۱,۰۴۵ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | کاپیسا




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### هغه پرېکړه چې ټاکل یې ستونزمنه وه

۷۵ کلن محمد ابراهیم د کاپیسا ولایت نجراب ولسوالۍ پچه غان سیمې څخه وه. دوه کاله مخکې بلواګر د هغه خنګ ته راغلل او پوښتنه یې تري وکړه چې ولې له دولت سره همکاري کوي. د بلواګرو دې ډلې محمد ابراهیم د ۲۵ ورځو لپاره بندي کړ.

> "که څه هم ما هېڅ کله له دولت سره کار ندی کړی زما یوازینی جرم دا وه چې د کلي مشر وم."

وروسته له ۲۵ ورځو بلواګرو ورته ووایل چې هغه به یوازې په یو شرط خوشې شي: او هغه شرط دا ده چې باید دولت سره د کار کولو په جریمه کې هغوی ته ۶۰۰،۰۰۰ افغانۍ ورکړي.

محمد ابراهیم ووایل چې هغه پیسې نلري چې هغوی ته یې ورکړي. د بلواګرو دې ډلې ځواب ورکړ چې هغه باید خپله یوه لور هغوی ته ورکړي. محمد ابراهیم ووایل چې ولې باید خپله زړه ته نږدې لور هغوی ته ورکړي.

> هغه په یاد راولي چې هغوی به ورته وایلې: "دا ستا پرېکړه ده: یا د لور او یا هم پیسې. مونږ به د پیسو لپاره ستا لور خرڅه کړو."

د دې پرېکړې کولو پر ځای محمد ابراهیم خپل هر څه پرېښودل او له خپلې کورنۍ سره له هغه ځایه وتښتېده. اوس هغه په کوهستان ولسوالۍ کې اوسېږي او د بزګر په توګه کار کوي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.



محمد ابراهیم خپل هر څه پرېښودل او د کورنۍ نورو غړو سره کوهستان ولسوالۍ ته ولاړ تر څو د بلواګرو له ګواښونو څخه خلاصون پیدا کړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترځ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انترنتي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره